ژباړه : رحمت آریا ۲۰۰۹زکال سپتمبر

د طالبانو د جنایاتو بیه : دافغانستان په شمال کې د پښتنو کـړَول او ځورول

لسمه برخه

HUMAN RIGHTS WATCH APRIL ۲۰۰۲ VOL. ۱٤, NO. ۲ (C) انګریزي اخځ

ځدران

ځدران د پښتنو د یوه لوی توکم نوم دی ، ځدران د نهرین په ولسوالی کې د ځلورو کلیو نوم او د پښتنـي ځدرانو کورګی او ټاټوبی دی . د بشري حقونو د څار ټولنې د ځدرانو د کلي له یو ه کلیوال سره مرکه کړې او د هغه په وینا په دغه کلي کې د ځلویښتو او پینځوسو ترمنځ پښتني کورنۍ دیره وې.

پینځه دیرش کلن ف.ک. وویل چې د طالبانو له پرځېدا وروسته جمعیتي سرتیرو د پښتنو له کلیو او باندو څخه د وسلو په ټولولو پیل وکړ : " د طالبانو د واکمنۍ د ړنګېدا په لومړۍ ورځ هغوی راغلل او له [هر کور څخه یې] یوه یا دوه میله وسله راټوله کړه. له طالبانو وروسته یوازې پښتانه بې وسلې کړل شول. " هغه وویل ، د طالبانو د پرځېدنې په هماغه لومړۍ شپه دده د ځمکې حاصل او کندوان هم لوټ او تالا شول :

" د رژیم د بدلون په وخت کې زما ځمکنۍ ییره " حاصل " بولندوی خورشید ، بولندوی ګل رحمن او د هغه توپکوالو لوټ کړه. هغه زما ۲۰۰ منه [۱۴۰۰ کیلوګرامه] غنم چور کړل. هغوی په خپلو موټرانو کې راغلي ول چې غنم بار کړي. د دا طالبانو د پرځېدا په لومړۍ شپه [1] را پیښ شول. کلي ته پینځوس یا پینځه پینځوس تنه وسله وال راغلي ول . [2] "

د ۲۰۰۲ ز کال د فبروری د میاشتې په وروستۍ اونۍ کې ف.ک. د ځدرانو له کلي څخه وځي او له کلي څخه د هغه د وتلو تر مهاله یوازې پینځه پیښتنـي کورنۍ په کلي کې پاتې وې. ف.ک. د نورو کلیو د کلیوالو په څیر خپل کلي هغه مهال تر شا پریږدي چې کلي چور او تالا کیږي ، د چور پر مهال لوټماران ف.ک. وهي ، تر ټولو ستونزمنه لا دا چې نوموړي ته د ګاونډي تاجیک میشته کلي کلیوال ګواښ کوي چې نوره خپله ځمکه نه شي کرلای :

" زه لوټ او تالا شوم. ان زما د کاله دستک او کړکۍ و ایستل شوې. ماغوښتل چې خپله ځمکه وکـَرم خو چا نه پریښودم چې کر کیله وکړم. دا بندیز نه یوازې زما پر ځمکې ولګیده بلکه د [سخا] خلک چې ټول تاجیک توکمه دي د ځدران د کلي پر کلیوالو او ځمکو دغه بندیز ولګاوو. هغوی ویل چې دا زموږ پوونډي دې خو موږ د خپلو ځمکو قبالې لرو. اوس نه داسې ځای شته او نه داسې څوک چې زموږ قبالو ته پام وکړي.[3] "

د نهرین په ولسوالۍ کې نورپښتون میشته کلي

[1] Human Rights Watch interview with F.K., aged thirty-five, March 1, 2002.
[2] هماغه
[3] هماغه

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د نهرين په ولسوالۍ کې د ټولو پښتون ميشتو کليو حال د پورتنيو کليو په شان وو. س.م. د عثمان خيلو د کلي يو کډوال شوی کليوال دی ، نوموړي د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل چې د عثمان خيلو د کلي له اتلسو پښتنو کورنيو څخه يوازې دري کورنۍ په کلي کې پاتې دي. س.م. وايي چې جمعيتي سرتيري دده پر کلا ور ننوتل : " دغه وسلوال د ورځې له پلوه له خپل بولندوی سره دي خو د شپې له پلوه داړې وهي ، کورونه لوټ او تالا کوي. ما په خپلې کلا کې غنم درلودل ، هغوی زما غنم غلا کړل. زه د روژې په مياشت کې له کلا څخه ووتلم له هغه وروسته يې زما ټول کور لوټ کړی وو.... کله چې له خپل کلي ووتلم ، زما کلا ته پوځيان راغلل ، اوس هلته يوه پوځي اډه جوړه شوې ، څلويښت پينځوس تنه پوځيان هلته ديره دي . [4] "

پينځه پينځوس کلن ح.ک. د اوو تنو ماشومانو پلار دی چې د لوټمارو له لاسه له دشتِ قاضي څخه ولاړ : " هغوی زموږ پسونه ، زموږ د کور د اړتيا وړ توکي او هر شی يې و لوټل. هغوی د طالبانو د پرون ورځې مخالفين ول او نن يې دولتي واکمني په لاس کې ده. هغوی ټول له غرو راکښته شوي تاجيکان ول ، د دنګو غرو خلک ول. هغوی زموږ وزې ، زموږ غنم ، زموږ وربشې ، زموږ غالۍ او زموږ ګيليمونه ټول له يوې مخې را څخه يو وړل. زموږ ۳۰ منه غنم [۲۱۰ کيلو] ، زموږ ۲۰ منه [۲۱۰ کيلوګرامه] وربشې يې راڅخه غلا کړل. د کلي هر کور لوټ او تالا شو. موږ بيرېدلي وو ، له ويرې مو هر شی په کور کې پرېښودل. بيرته خپلو کور او نغري ته تللای نه شو ، هلته وسلوال دي. هغوی له موږ پيسې غواړي ، که پيسې ور نه کړو ، موږ وژني. [5] "

د کيلګي دَرَه

د بشري حقونو د څار ټولنې د کيلګۍ په دره کې د [غرارَ که[6]] له کلي څخه ليدنه وکړه ، دغه کلی د ۳۰۰ او ۴۰۰ ترمنځ پښتني بومي کورنيو کورګی او ټاټوبی دی.

ن. پينځه ديرش کلن بزګر دی ، هغه وايي د روژې په مياشت کې د اندراب او پنجشير له درې څخه د جمعيت د جنګياليو يوه لويه ډله د غرارکې کلي ته راغله او د لويې لارې پرسريې پوځي پوسته واچوله. د جمعيتي سرتيرو د پام منځتګی د دغې دَرې په کليو کې د شتمنو او بډايو کليوالو او له طالب چارواکو سره د همکارو پوځي کسانو د کورونو لوټ او تالا کول ول ، لومړی يې د هغوی موټران ، ميز او څوکۍ يا فرنيچر او وسلې را ټول کړل. د ن. کور هم د همدغو لوټمارو يوې لس يا پينځلس کسيزې ډلې لوټ کړ : " هغوی له ځان سره يوه لارۍ راوړې وه ، د خوب تختونه او فرنيچر يې په شوکه واخيستل. [7] "

ک. ل. د غرارکې د کلي پينځه اويا کلن کليوال دی ،هغه وايی چې تاجيکان له طالبانو څخه د غچ اخيستلو لپاره راغلي ول خو ستونزه دا ده چې موږ طالبان نه وو ، که په طالبانو کې پښتانه ډير ول ، دا ددې مانا نه ښندي چې پښتنو د طالبانو ظلم اوتيری نه دی ليدل او يا طالبانو پښتانه نه دي ځورولي. : " طالبانو د خپلې واکمنۍ پر مهال تاجيکان و کړول اوس تاجيکان راغلي او د طالب غچ زموږ له څټه راباسي ، طالبانو موږ هم چې پښتانه يو په زندانونو کې اچولي وو. طالبانو هماغومره چې تاجيکان ځورولي دي ، پښتانه يې هم کړولی دي ، خو تاجيکان پړه زموږ په غاړه را اچوي.... تاجيکان وايی اوس موږ له تاسو څخه هغه شيان اخلو چې طالبانو له موږ څخه اخيستي ول. موږ خپلې پيسې له لاسه ورکړي اوس به يې تاسو راکوئ. [8] " نوموړی وايی چې د جمعيتي سرتيرو په لاسونو کې توپک او کېبلونه ول او ټول کليوال يې د توپکو په ليچونو او کيبلونو ووهل.

---

[4] Human Rights Watch interview with S.M., internally displaced persons camp in Baghlan city, February
25, 2002.

[5] Human Rights Watch interview with H.K., aged fifty-five, internally displaced persons camp in Baghlan
city, February 25, 2002.

[6] Ghararaka

[7] Human Rights Watch interview with N., aged thirty-five, Ghararaka, February 25, 2002. N., like many Afghans, uses only one name.

[8] Human Rights Watch interview with K.L., aged seventy-five, Ghararaka, February 25, 2002.

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اوه دیرش کلن ، م.س. هم د هغو کړاوونو پړه پر تاجیک توکمو توپکوالو اچوي چې دده کلی ورسره مخامخ شوی وو: " موږ دلته د کلونو کلونو لپاره په [سوله] کې د یو بل ترڅنګ ژوند کړی ، خو کله چې کندهاري طالبان راغلل موږ ته یې ستونزې وکړلې او غمونه یې راوکټول. اوس [تاجیکان] د طالبانو د کړو وړو پړه زموږ پر غاړه را اچوي او د طالب کړس له موږ څخه اخلي ، موږ پوهیږو چې ټول تاجیکان داسې نه دي ، دا تاجیک توپکوال دي چې د طالبانو د پړې پلمه یوازې د خپلو لوټماریو لپاره کارَوي. [9] " م. س. وایي چې طالبانو زموږ په کلي کې یوه دیني مدرسه جوړه کړې وه ، دغې دیني مدرسې ، طالبان روزل.[10] "

پینځه دیرش کلن د . م. د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل چې د اندراب د ولسوالۍ جمعیتي سرتیري دده کلي ته راغلل او هره ورځ به یې له کلیوالو څخه د پیسو غوښتنه کوله : " هغوی به له هر چا د خپل توپک په زورغوښت کاوه ، هغوی ویل چې ته پښتون یې ، راکه ۱۰ لکه ، راکه شل لکه [۱۴ – ۲۸ ډالرو پورې]. [11] " د نسیم علم په نامه یو جمعیتي بولندوی له دولس تنو توپکوالو سره د ده پر کلا ور ننوت ، د.م. یې د توپک په لیچونو وواهه او د هغه له کور څخه یې ۶۵۰ منه [۴۵۵۰ کیلو ګرامه] وریجې غلا کړې. " د لوټ او تالا په هماغه ورځ د.م. او ورور یې د پوځي فرقې لیوا ته په یوه غوښتنلیک کې خپله سرټکونه وکړه ، لیوا مشر امر وکړ چې د.م. او ورور یې دواړه د څلورویشت ساعتو لپاره په یوه کانتینرکې بندیان کړي. له څلورویشت ساعتو وروسته په دواړو توبه وایستل شوه چې نور به د خپلو وریجو غوښتنه نه کوي او نه به چا ته سرټکونه کوي. [12]

کندز او نور ولایتونه

د بشري حقونو ټولنې د کندز له ولایته نیغه لیدنه ونه کړه خو د کندز له یو شمیر پښتنو کډوالو سره یې مرکې کړي ؛ په مرکو کې وویل شول د کندز پښتانه په څه ډول کړول شوي دي.د مرکو تر څنګ د بشري حقونو د څار ټولنې ته له یو شیمر محرموسرچینو څخه مشرح ګزارشونه راغلل چې په هغو کې د پښتنو د ځورونو او کړوونو لړۍ د هرات ، بادغیس ، سرپل ، جوزجان او تخار په ولایتونو کې کټ مټ هاغسې پیښ شوي وې چې یو شمیر کوشنۍ بیلګې یې موږ په دغه ګزارش کې وړاندې کړې.

د کندز د دشت ارچې د سیمې د حاجي ګودامدار شینواري له کلي څخه دوه پینځوس کلن م. الف ، د ده د کلي له پینځلس ورځنې لوټ او تالا وروسته کډوال شو. نوموړي د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل : " یو شمیر وسلوال زما پر کلا را ننوتل او زما د کور نالیچې ، برستنې ، پینځه غوایې ، لس - پینځلس وزې او پسونه یې په شوکه غلا کړل... داړه ماران د بولندوی [س] توپکوال ول چې د رستاق او چاه آب له سیمې څخه دي. هغوی جمعیتي بولندویان دي . [13] " نوموړی اټکل کوي چې له ۳۰۰ بومي پښتنو کورنیو څخه اوس یوازې شل پښتنې کورنۍ هلته پاتې دي. د بغلان له ښاره دباندې د کډوالو په دغه پنډغالي کې اوس د نوموړي کلي څلویښت کډوالې کورنۍ ژوند کوي.

دیرش کلن پ. م. د ۲۰۰۲ز کال د فبروری د مېاشتې په لومړیو کې د دشت ارچې د عیدګاه د جومات له کلي څخه راوتلی وو. مخکې له دې چې پ. م. له خپل کلي څخه را ووځي ، جمعیتي وزبکو توپکوالو نوموړی په ډېر بد ډول وهلای وو ، نوموړی بې هوښه وو چې میرمن یې د جنسي برید بلهارې شوه :

" درې څلور اونۍ مخکې د جمعیت د وزبک توکمي بولندوی قاري امین توپکوال زموږ کلي ته راغلل. توپکوال زموږ د ګاونډیو کلیو کلیوال ول. څاښت مهال ، غرمه نیږدې وه او زه په خپلې کلا کې وم. پینځه تنه توپکوال زما پر کلا را واوښتل. زما لاسونه یې زما تر شا وتړل. د توپک لیچونه یې ماته را واړول بیا یې زما مخ ته سوکان ونیول. بیا یې زما ملا ته د توپکو لیچونه را تاو کړل او ویې وهلم. دغه ډول وهل تر دیرشو دقیقو پورې و غځېدل. له هغه ورسته بې هوښه شوم. کله چې سترګې مې و غړولې ګورم په خپله خونه کې یم. د کلا له انګړ څخه مې میرمنې په کشولو کشولو خونې ته راوړلې وم.

---

[9] Human Rights Watch interview with M.S., aged thirty-seven, Ghararaka, February 25, 2002.

[10] هماغه

[11] Human Rights Watch interview with D.M., aged thirty-five, Ghararaka, February 25, 2002.

[12] هماغه

[13] Human Rights Watch interview with M.A., aged fifty-two, Charshembe Tepa camp, March 1, 2002.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د وهلو ډبولو پر مهال زما ماشومان بیریدلي ول او چیرې پټ شوي ول. په میرمن مې جنسي برید شوی وو. دغسې بریدونه نه یوازې زما په ماندینې شوي بلکه د ټول کلي ډیریو میرمنو ته وَرته سپکاوی شوی دی.

بریدګرو داړه مارو زما له کاله څخه دوه لکه افغانۍ [۹ ډالره] ، درې ګیلیمونه ، د سرو زور ګانې او د ښځو جامې غلا کړي ول. توپکوالو د ټول کلي کورنه په همدې ډول لوټ او تالا کړل.[14] "

له وهلو کړولو وروسته د پ. م. میرمنې خپل خاوند روغتون ته بوت ، هغې د درملنې لپاره پیسې نه درلودلې ، خپل خریې و پلوره تر څو خپل خاوند ته درمل و پیري. له هغه ورسته پ. م. له خپلې کورنۍ سره د بغلان له ښاره دباندې د کډوالو په یو پنډغالي کې دیره کیږي. نوموړي وویل چې وزبکو د دوی پر ټول کلي خیټه اچولې ده : " وزبکو زموږ ځایونه او کورونه و نیول. اوس هغوی هلته دیره دي.[15] "

د بلخ ، فاریاب ، بغلان ، سمنګانو او کندز په ولایتونو کې د بشري حقونو د څار د ټولنې د پلټونکو د راټولو شویو مالوماتو ترڅنګ چې له عیني شاهدانو او د پیښو له بلهاریانو څخه یې نیغ په نیغه را ټول کړي دي ، یو شمیر محرمې سرچینې او د ورځپاڼو سرچینې هم شته چې د افغانستان په شمالي ولایتونو کې یې د ورته ویل شویو کړاوونو ، ځورونو ، لوټ او تالا خبره راسپړلې ده ؛ دغو سرچینو نه یوازې له نوموړو ولایتونو څخه یادونه کړی بلکه د هرات ، بادغیس ، سرپل ، جوزجان او تخار ولایتونه یې هم یاد کړي دي. سره له دې چې نوموړي ګزارشونو نورو پراخو او ژورو پلټنو ته اړتیا لري تر څو د دغو ربړو او کړاوونو ژور والی را څرګند شي ، خو بیا هم د دغې ادعا لپاره یو بشپړ زباد بلل کیدای شي چې د افغانستان په ټولو شمالي ولایتونو کې پښتانه په نخښه شوي او بیا تر شونې کچې کړول شوي او ځورول شوي دي.

د ۲۰۰۲ز کال د مارچ په ۲۱ نېټه د بادغیس او هرات د ولایتونو د پښتنو مشرانو یو شپېته کسیز پلاوی کندهار ولاړ ترڅو د پښتني ټولنو پرضد د ځورونو د لړۍ په مخنیوي کې له نړیوالې ټولنې څخه مرسته وغواړي. د بادغیس له ولایت څخه د پښتني پلاوي غړي حاجي عبدالحمید یوه خبریال ته وویل : " هغوی زموږ خلک بندیان کړي دي. هغوی زموږ پرګنې را وژني. هغوی زموږ کورونه او څاروي لوټ کړل. [16] "

د ۲۰۰۲ز کال د جنورۍ په مېاشت کې د ارزونې یوې نړیوالې ډلې د سرپل د ولایت په ښاري سیمو کې د بې ځایه شویو پښتني کورنیو او کلیوالو غټې شمیرې وموندلې. د سرپل په ښار کې د بې ځایه شویو پښتنو کډوالو لپاره په ځانګړې شوي پنډغالي کې دیره شوي پښتانه د نورو توکمیزو ډلو له پلوه کړول کېدل چې له دغه ښاره ووځي. د دغو بې ځایه شوېو پښتني کورنیو غټه شمیره د [سوزمه کلا] د ولسوالۍ کلیوالې کورنۍ وې ، کډوالې پښتني کورنۍ وایي چې د دوی د استوګنې د سیمو پښتني کورنۍ ، توپکوالو ډلو لوټ او تالا کړي دي. د سید آباد له سیمې څخه سرپل ته راغلې پښتني کورنۍ د سوزمه کلا د کورنیو په څیر له ورپیښ شوی لوټ او کړاو څخه سرټکونه کوي. د محرمو سرچینو د ګزارش پر بنسټ لږ تره لږه یو پښتون چې په سرپل کې د یوه سیمه ییز بولندوی په منګولو کې بندي وو ، په بندیتوب کې مړ شوی دی. د سوزمه کلا او سید آباد د سیمو کډوالې پرګنې وایي چې هغوی د عرب توکمو افغانانو د ناتارد سرې تبې له امله په سره اور کړول شوي دي ، دغه عرب توکمه افغانان د سرپل د ولایت ولکه په لاس کې لري [په افغانستان کې عرب توکمه افغانان هغه افغانان دي چې پلرونه یې څو سوه کاله مخکې افغانستان ته راغلي ول] [17]

د تخار د ولایت د فرخار د ولسوالۍ یوه اوسیدونکي سید محمد د جنګ او سولې د ګزارش ورکولو انستیتیوت [18] یوه خبریال ته وویل : " موږ له خپلو کورنو څخه را وایستل شوو او بولندویانو موږ ته وویل چې نور په دغې ولسوالۍ کې ستاسو لپاره د ژوند کولو ځای نه شته. [19] " محرمو سرچینو اټکل کړی چې د جمعیت د ځواکونو د وحشت له امله د

---

[14] Human Rights Watch interview with P.M., aged thirty, Charshembe IDP camp, March 1, 2002.

[15] هماغه

[16] "Pashtun Elders From Northwest Tell of Persecution, Appeal for UN Help," Associated Press, March 22, 2002.

[17] Confidential information on file at Human Rights Watch.

[18] Institute of War and Peace Reporting

[19] Abdul Zarmalwal, "Afghanistan: Kabul Officials 'Play Down' Pashtun Atrocities," IWPR's Reporting Central Asia, No. 110, March 26, 2002.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فرخار له ولسوالۍ څخه څه د باندې زر پښتني کورنۍ کډوالۍ ته اړ ایستل شوي دي. بې ځایه شوې کډوالې کورنۍ ادعا کوي چې د پښتني کلیوالو کورنیو په دغې ډله ییزې شړونې کې تاجیک توکمه بولندویان ښکیل دي ، نوموړي بولندویان د دغې سیمې پښتانه د طالبانو د ملاتړ والي په تور پړ ګڼي ؛ د دغو پښتني ټولنو پرځمکو او شتمنیو ، جمعیت ته پالیالو ګاونډیو وسلوالو تاجیک توکمو کلیوالي ټولنو خیټه اچولې ده.[20] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د کمشنرۍ ویاند منلي چې پاکستان ته د نویو راکډوال شویو کورنیو په کتارونو کې د فرخار د سیمې کډوال هم دي ، ویاند زیاتوي چې د نوېو کډوالو شویو کورنیو غټه شمیره ادعا کوي چې دوی په شمالي افغانستان کې د پښتنو پر ضد د رامنځته شویو بریدونو له امله له خپل ټاټوبي څخه کډوال کېدلو ته اړ شوي دي.[21]

محرمي سرچېنې ګزارش ورکوي چې د جوزجان په ولایت کې پښتانه کوچیان له سختو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ دي. پښتانه کوچیان ادعا کوي چې له هغوی څخه د دوی د رَمو په زرګونو زرګونو پسونه په وچ زور اخیستل شوي او د کوچیانو ۱۷ تنه مشران د شبرغان زندان ته اچول شوي دي.[22] وسلوالو ډلو د لیلي په دښته کې د پښتنو کوچیانو د څارویو په رَمو بریدونه کړي ، داړه مارانو د پسونو د رَمو بې شمیره پسونه لوټ کړي او شپانه یې ډېر سخت وهلي دي ، د لیلي دښته د جوزجان او فاریاب د ولایتونو ترمنځ پرته ده. [23]

د افغان چارواکو ځواب

د خپلواک کمیسیون ګومارل

.

د ۲۰۰۲ز کال د فبروري د مېاشتې په نیماییو کې افغان لنډ مهالي دولت یو لوړ پوړی خپلواک کمیسیون و ټاکه ترڅو د افغانستان په شمال کې د را کتېدلي ژب توکمیز کړاو او شخړو په اړوند د رارسیدلو ګزارشونو په اړه پلټنه پیل کړي. په کمیسیون کې درې تنه غړي ول : د خوراکي توکو او د سپکو صنایعو وزیر عارف نورزی ، د ایران ټاکل شوی سفیر ډاکټر مُشــَهید [24] او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د کمشنرۍ یو ان ایچ سي آر څارونکی کارکوونکی محمد ابراهیم – دغه درې کسیزه پلاوي د فبروۍ په پای کې شمالي افغانستان ته سفر وکړ. نوموړي پلاوي د بیلابیلو توکمونو له کلیوالو سره خبرې وکړې او د شمال په اړه یې لیکلي مالومات را ټول کړل.

کمیسون د مزار شریف ، بلخ او د ورخیرمه سیمو او د سمنګانو د ولایت له مرکز څخه لیدنه وکړه . کمیسیون له سیمه ییزو بولندویانو سره ولیدل او په یو یو ځای کې یې یو ځل له هغوی سره سفر هم وکړ. د بشري حقونو د څار ټولنې ژروه اندیښنه څرګنده کړه چې له پلاوي سره د بولندویانو شتون د مالوماتو د راټولو پر لړۍ کلکه اغیزه شیندي خو نوموړي کمیسیون وویل چې د بولندویانو همکاري په حقیقت کې د بولندویانو غیر مستقیمه پوهونه ده چې په سیمه کې ددوی تر لاس لاندې د عادي افغانانو د ژوند له ستونزو څخه خبر اوسي او دغه لیدنې د یوې وسیلې په توګه بولندویان په دې ډاډمن کوي چې دوی نه شي کولای ددغسې ستونزو له شتون څخه انکار وکړي.

د نورزي په وینا د کمیسیون لومړنۍ جاج اخیستنه له ډیریو اړخونو د بشري حقونو د څار د ټولنې له ګزارشونو سره په یوه لیکه او همغږې وه ، کمیسیون ته تر ۳۰۰ پورې ګزارشونه رسیدلي ول چې په شمال کې یې د پښتنو پر ضد بریدونو ته نغوته کوله ، په ګزارشونو کې د بوږنوړی وحشت او له ځور سره ملګری د ډله ییز، پراخ او هر اړخیز لوټ او

---

[20] Confidential information on file at Human Rights Watch.

[21] Louis Meixler, “Thousands of Ethnic Pashtuns Fleeing Northern Afghanistan,” Associated Press, February 21, 2002.

[22] Confidential information on file at Human Rights Watch.

[23] هماغه

[24] زه د افغانستان دولت او چارواکو پوهې او بې وسۍ ته هک پک یم چې ایران په خپله ددغو ژب توکمیزو شخړو تر شا ولاړ یو هیواد دی او د افغانستان دولت د ایران سفیر د داسې حساسو پیښو د پلټلو لپاره لیږي ، دلته دوه انګېرنې دي یو دا چې د افغانستان دولت د شمالي ټلوالي په لاس کې دی ؛ ټلواله په ډاډه زړه باور لري چې ایرانی سفیر به په خپلو ارزونو کې د شمالي ټلوالي پر کړو وړو خاورې واچوي او د هغوی ننګه به وکړي بله دا چې دغه بیلګه د افغانستان په دولت کې د ایران ددولت ژورو جړړو ته بربنډه نغوته ده. د ایراني سفیر شتون هغې دوه دَمې چړې ته ورته دی چې هم د شمالي ټلوالي ننګه کوي او هم د وحدت دډلې پر وحشت خاورې اچولای شي (ژ)

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تالا ، په وچ زور د خلکو پر شتمنیو او ځمکو د خیټې اچولو او د جنسي تیریو یادونه شوې وه.[25] د کمیسیون په ګزارش کې په ډیریو برخو کې په څرګنده ویل شوي ول چې د راپاریدلي وحشت لامل د غچ اخیستنې په هغو رښتونو او ګوماني اړیکو کې پروت وو چې د پښتني ټولنو او طالبانو ترمنځ یې شتون درلود. کمیسیون له سیمه ییزو بولندویانو سره هم خبرې اترې وکړې ، بولندویانو خپل کړه وړه د یوه اورپکي یا متعصبه عدالت یوه برحقه بڼه وبلله ځکه چې د پخوانیو جرایمو لپاره د حساب او کتاب اخیستنې رسمي لارې چارې نه وې. کمیسیون پرته له دې چې د تاجیک توکمو ځواکونو یادونه وکړي د موندنو منځتګی یې یوازې د وحدت او جنبش د ځواکونو پر راپاریدلي بوږنوړی ناورین راچورلیده. لنډ مهالي دولت وویل چې دولت به یو بل کمیسیون و ټاکي ترڅو په شمالي افغانستان کې د جمعیت د ځواکونو تر ولکې لاندې سیمو کې د کړاوونو ، لوټ ، تالا او ځورونو جاج واخلي.[26]

همدا ډول لنډ مهالی دولت په ځانګړې توګه د جون په مېاشت کې د لویې جرګې له جوړیدا مخکې د هیواد په شمال کې د حالاتو څارنې ته ځان ژمن بولي. ستونزو ته د بیړني ځواب او د هغود هوارولو په لار چارو کې تر ټولو پوخ وړاندیز د یوه همکارمیکانیزم جوړول دي چې ډیرو ځانګړو سرټکونو او شکایاتو ته ځواب ووایي ، په دغه میکانیزم کې د شمال د ټولو ژب توکمیزو ډلو استازي باید ګډون ولري. پټیل شوي ده چې په دغه میکانیزم کې به په شمال کې د پښتنو بولندویانو او د بشري مرستندویو ټولنو په ګډون د شمال لویې ژب- توکمیزې ډلې ګډون ولري. په وړاندیز شوي میکانیزم کې به داسې لارې چارې په پام کې نیول شوي چې له مخې به یې ملکي وګړي رامنځته شوي شکایات او د ستونزو د هوارې لارې چارې د سیمه ییزو بولندویانو پاملرنې ته ورسوي. خو په دغه میکانیزم کې تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې دا به د جګړه مارو توپکواکو د سیاسي واکمنۍ کړې لا پسې پراخه کړي ځکه د هغوی واک او ځواک یوازې او یوازې په وسلو او وسلوالو ډلو پورې تړلی دی. دا څرګنده ده چې دغه یو غیر ولسي نا استازی ځواک وو چې د ملکي وګړو حق یې تر پښو لاندې کړ او د عادي افغانانو تر پښو لاندې یې سور اور بل او په سره تبې یې کښینول.

خو له دې سره سره د لنډ مهالي دولت بیړنی ځواب د ستاینې وړ دی. د کمیسیون د وړاندیزونو منځتګی د سیمه ییزو بولندویانو بې وسلې کول او د هغوی سرتیرو ته د امکاناتو برابرول دي چې خپلې وسلې دولت ته و سپاري ، د بېلګې په توګه هغه سرتیري چې خپله وسله سپاري هغوی ته د خوراکي توکو د درې مېاشتنې کوپون برابرول ، په دې لړ کې د نړیوالو مرستو په اډانه کې هغوی ته د کاري امکاناتو برابرول چې د د ندې په لړ کې ورته روزنه ورکړل شي. د کمیسیون په وړاندیزونو کې بل د پام وړ ټکی په سیمه کې د نړیوالو مرستندویو پوځي ځواکونو د یوې کوشنۍ ډلې پلې کول دي د بیلګې په ډول په شمالي ولایتونو کې له ۳۰۰ – ۵۰۰ پورې د سرتیرو پل کول چې بیړني او لومړني امنیتي امکانات برابر کړي.[27]

---

[25] Human Rights Watch interview with Aref Noorzai, minister of light industries and member of the three-person independent commission, Kabul, March 3, 2002

[26] Human Rights Watch interview, Kabul, March 10, 2002.
د ژباړونکي یادونه : د حامد کرزي په دولت کې له دغسې کمیسیونونو څخه په سلګونو کمیسیونونه د کاغذ پر مخ جوړ شوي دي. پوښتنه دا ده چې شمالي ټلواله او نظار شورى چې ددولتي واک خوځنده لامل او ځواک دی ولی له دغسې یوه دریځ څخه د خپلو له شرمو ډکو کړو وړو پر سر خاورې اچوي؟ په پورتني لمنلیک کې ما وویل چې د ایران د سفیر شتون خپله په خپله پوښتنه رامنځته کوي. ولې کمیسیون یوازې د تر سره شویو جنایاتو بار پر هزاره او وزبکو اچوي. رښتیا دا ده چې شمالي ټلوالې غوښتل په یوه مچنغزي دوې مرغۍ وولي. له یوې خوا د ټولو جنایاتو بار د نورو پر اوږو واچوي او له بله اړخه نړیوالې ټولنې ته ور څرګنده کړي چې ددوی ډله د آسماني پرښتو په څیرسپیڅلې دي. ټوله موخه دا وه چې ځان په واک کې وساتي. د افغانستان د ولس او پرګنو پوښتنې ته یوازې تأریخ ځواب ویلای شي او کوږ بار به هېڅکله تر منزله ونه رسیږي.

[27] Human Rights Watch interview with Aref Noorzai, Kabul, March 3, 2002.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ